# پښتانهٔ

د غني خان د کتاب ترجمه

(شپږم باب)

## (رواجونه)

ترجمه عابد خان

کله چې يو قانون دومره زوړ شي چې د يو قام په رګونو کښې ورننوځي او په وينه کښې ئې ګډ شي نو دود دستور او رواج Customs ترې نه



د غني خان د لاس جوړ د يو پښتون سکېچ

جوړ شي او کله چې په دغه رواج دومره پيړۍ واوړي نو نهٔ خو ئې ضرورت پاتې شي او نهٔ ئې چا ته د شروع کېدو سبب او موقعه ياده پاتې شي

ولې رواج بيا هم باقي او رائج وي. ځکه چې سړے خپل اولاد له نهٔ صرف د خپلې پوزې رغونه او د خپل شخصيت غوټې او لانجې او د خپل ذات پېچونه او لېونتوبونه ورکوي بلکې خپلې ويرې او اندېښنې، سندرې، ښېرې او کنځلې ورته هم په ميراث کښې پاتې کېږي. هغه چې ثومره کېدے شي نو کوشش کوي چې خپل بچي له خپل شکل او صورت او خوئ خصلت ورکړي.

جديد او مهذبه انسان دغه کار د خپلو سکولونو، کالجونو او کتابونو، خپلو مطبوعاتو او مېډيا په وسيله کوي او کله کله د خپلې خبرې او موقف صحيح ثابتولو دپاره د وسلې، بارودو، جېلونو او غرغره کولو نه کار اخستونکے هيڅ باک يا شرم نهٔ محسوسوي.

Civilisation is the continous surrender of Individual Perfection to Mass Imperfection. Civilisation is not built on the songs of Don Juans but on the solid and pious resolution of respectable middle-aged old husbands. That is why it is so poor in laughter.

تهذيب نوم دے د انفرادي خوبيانو او کمالونو د اجتماعي او ټولنيزې بدۍ او بې کمالۍ په وړاندې د يو مسلسل او جاري شکست او تسليمېدو. تهذيب د ډان وان په مستو او

رومانوي سندرو نه بلکې د ځوانۍ نه ور اوښتي پوخ عمره او معززه خاوندانو په نېکو او پاکو او کلکو ارادو ولاړ دے. دغه وجه ده چې د خندا او مزاح پکښې دومره کموت دے. هر نسل د خپل وړاندیني او مشر نسل نه د کړکیچونو او پیچېدګو یو غټ امبار په میراث کښې مومي. دوي پکښې نورې اضافې کوي او خپل راتلونکي کشر نسل ته ئې ور په سر کوي. داسې د عقیدو، قوانینو او رواجونو پیټے د یو نسل نه تر بله نسله مسلسل زیاتېږي. تر هغه وخته چې اخر هغه پښې ستړې او بې دمه شي کومې چې دغه پیټے وړي. دغه وخت یو غرب ناړي شي یو کلتور راپرېوځي. شکست وخوري او مړ شي. ستړي لوبغاړے د منډې نه راوغورځېږي او د ربس نه بهر شي. البته هغه لوبغاړے چې د سر پېټے ئې سپک وي او پښې ئې مضبوطې وي، منډه جاري وساتي او په وړاندې تګ کوي.

رواجونه هغه رنځیرونه دي په کومو کښې چې ساده لرغوني انسان Primitive man د خپلې ټولنې رغونه او شکل روغ او صحیح سالم ساتلو کوشش کوي. رواجونه د لرغوني انسان سکول او مدرسه هم ده او د هغۀ رېډیو او وزیر اعظم او ملا صبب هم.

تاسو قانون جوړ کړئ او بیا ورسره خپل وسله وال فوځیان هم راولېږئ چې د خپلو دې کمزورو ورونو سره ستاسو په جوړ کړې قانون په عمل کولو کښې کمک وکړي. پښتون هم د یو ساده او لرغوني انسان په شان ځان له قانون جوړ کړے دے او جادو او شیطان او پېریان ښاپیرې ئې اختراع کړې دي. د مقصد او مرام په لحاظ ستاسو په قوانینو Laws او د هغۀ په رواجونو Customs کښې هیڅ فرق نشته. ستاسو هوښیار جج هم هغه شان سنجیده او دانا شکل جوړ کړے وي لکه د پښتون د ملا او پیر صبب. عن تر دې چې جامې ئې هم د هغه په شان رعبدارې او شانداري اغوستي وي. پښتون ته ستاسو قوانین هم هغه هومره احمقانه او بې سرو پښو ښکاري څومره چې تاسو ته د هغۀ رواجونه ښکاري. غوټه د رېښمو په نرې او لطیف تار کښې هم جوړېږي او په غټ مضبوط پړي کښې هم. خبره صرف دا ده چې پښتون یو ساده نرے تار پکار راوستے دے او تاسو یو غټ او پیچېده پړي. هغۀ ته ستاسو د دغه پیچېده پړي هیڅ حاجت نشته. لکه څنګه چې هغه ستاسو د غټو ښارونو د پیچېده آبې یا ډرینیج نظام ته هیڅ ضرورت نۀ لري. اصل خبره غوټه ده. غوټه په دواړو صورتونو کښې یوه ده.



د غني خان آرټ

ځني خلق وائي چې دا غوټه هوښيارانو د کم عقله ساده ګانو د مدد دپاره جوړه کړې ده او ځوک وائي چې نۀ، دا خو کم عقلو د چالاکه هوښيارانو د قابو ساتلو دپاره جوړه کړې ده. هر څنګه چې وي، وي به خو دغه غوټه په دواړو صورتونو کښې موجوده ده. .....دغه غوټه.... د انسان يو قابل رحم او اتلانه کوشش... چې خپل خوبونه او ويرې او انديښنې او حماقتونه او خپل ټول شوده توب د خپلو بچو په سترګو کښې ورنهال کړي.

تاسو ورته قانون وايئ او په غټو غټو کتابونو کښې ئې ساتئ. پښتون ورته رواج او دستور وائي او د خپلې ښځې په ټوټې Treasure-Chest کښې ئې خوندي ساتي. تاسو د خپل قانون نه هله خبرېږئ کله چې تاسو پخپله جج يا وکيل يا غل جوړ شئ. پښتون د خوراک د چل زده کولو نه هم مخکښې خپل رواج او دستور پېژندلے او زده کړے وي. د پښتون رواج د هغۀ په ختنه کښې اغړلے شوے وي او د هغۀ په هډوکو کښې شامل شوے وي او د هغۀ په ځيګر او وينه کښې چلن کوي. پښتون چې کوم جرم يا ګناه وکړي نو د هغې د قانون او سزا معلوملو دپاره هغه د ججانو او وکيلانو حاجت نۀ لري. هغه چې جرم وکړي نو هغه دم پوهه وي چې سزا ئې څۀ ده. هغه په خپله جج او خپله جېلر وي. د هغۀ پلار نيکۀ او نورو مشرانو دا خبره يقيني کړې وي چې هم دغسې دې وي.

راځئ چې اوس يو څو پښتانۀ رواجونه وګورو او د پوهېدو کوشش پرې وکړو. ځکه چې رواجونه هغه يواځيني اوزار دي په کومو چې لرغوني انسان ځان له خپل کلتور جوړوي او تراشي ئې. دا د يو آرټسټ په لاس کښې د مُو قلم نقشونه دي. دا د اسماني تندر ګوزار نۀ دے بلکې دوي يو مقصد، مرام او اراده لري، يوه ټاکلې معنٰي لري. راځئ چې د پښتون تر ټولو وحشيانه رواج ته پام وکړو. په پښتون رواج کښې د پردي سړي سره د کوره د تښتېدونکې پېغلې سزا مرګ دے. دا لرغونے او خوني اصول د پښتون په وينه کښې نن هم ژوندے او تازه دے او کله چې د سستو او ازادو انګلستاني اخلاقياتو سره مخامخ شي نو ډېر سست عکس العمل ښيي. يو پښتون به د خپلې خور عاشق بغېر د څۀ تردد او ګومګو نه ووژني او بيا به ډېر په فخر او اطمينان خپل ځان انګرېز سرکار ته د غرغره کېدو دپاره وسپاري. په اصل کښې دغه انګرېزي قانون د سړې وينې او غېر جذباتي انګرېزي خور او بې پروا او بې تعلقه انګرېز ورور Cold English sister and Detached English Brother دپاره جوړ دے. پښتانۀ پېغلې کمې لري او مينه او جذبات او د جذبو شدت پربمانه لري. هغه په خپل ټبر کښې ننګيالي او جنګيالي پېدا کول غواړي او ځکه خالص او ښۀ نسل پېدا کول غواړي. کومه پېغله چې به سبا مور جوړېږي او مېړني ځوانان به زېږوي هغه د قام او قبيلې يوه ډېره قيمتي خزانه وي او ځکه پښتانۀ د خپلو تور سرو سخت حفاظت او ساتنه کوي. دا لرغونے دستور د جنسي بيمارانو The Oversexed نه د بچ کېدو يوه ښه طريقه هم ده او د غوره توليد Selective Breeding يو ښۀ نظام هم. خو آيا څۀ وخت چې يو قهرېدلے پښتون د خپلې تورسرې په غل ټوپک راواړوي او ډز پرې کوي نو آيا د هغۀ په ذهن کښې دغه وخت دا ټولې خبرې وي؟ نۀ، بېخي نۀ. دغه وخت د هغۀ په

مازغو کښې صرف د قهر او غضب يو سېلاب او لېونتوب وي. هغه به ارومرو د خپل عزت او ناموس غل وژني. د هغهٔ سره بله لاره نهٔ وي. کهٔ هغه داسې نهٔ کوي نو د چم ګاونډ خلق او خپل خپلوان به ورته بد او سپک ګوري. پلار به ئې ورپورې پېغور او پيشاړې کوي،. خوېندې به ورله سترګو ته نهٔ ګوري، ښځه به ئې بدمزاجه او سرکشه شي او ياران دوستان خو به ئې په پېغورونو ووژني. پښتون غريب ته د دغه شرمونو او بې عزتو په مقابله کښې دا ډېر اسان کار ښکاري چې يو داسې جج دې هغهٔ له د پانسۍ سزا ورکړي څوک چې د دهٔ په ژبه او جذبو نهٔ پوهېږي او يو داسې قانون دې هغه په دار وخېژوي کوم چې د هغهٔ په ژوند او رواج نهٔ پوهېږي. په داسې وخت کښې به پښتون د خپل قام رواج او خپل فرض پوره کوي. هغه به د خپلې وينې تنګ ثابتوي. کهٔ په دغه کار کښې د هغهٔ زړهٔ چوي او کهٔ ککرۍ ئې پکښې ماتېږي نو هيڅ خبره نهٔ ده. هغه به په داسې حال کښې چې لاس ئې د خپلې خور يا ښځې د عاشق په وينو سرهٔ وي، ډېر په وياړ او غرور دار پله ځي او د خپلو خلقو د فخر او ستائنې نه ډکې سترګې به ډېر په شوق او احترام د هغهٔ د مرګ ننداره کوي. څوک هم چې د يو اصول دپاره خپل سر قربانوي، خلق تل دغه کس له مينه او احترام ورکوي. پښتانهٔ د دغه مېړني په شان کښې چغه کړي «مېړنے اتل» خو ستاسو جج خپله فېصله واوروي چې «خوني قاتل» او خدائے شته چې زهٔ تراوسه پورې په دې نتيجه ونهٔ رسېدم چې دغه پښتانهٔ رښتيا وائي او کهٔ ستاسو دغه جج.

دا لرغونے رواج چې ځان له يواځې کار ته پرېښودلے شي نو بهترين کار کوي. د پښتنو په قبائلي علاقو کښې کوم ځائے چې څلور نيم ملينه خلق د قانون، پوليس، عدالتونو او وکيلانو ججانو نه بغېر ژوند کوي د قتل يا زنا واقعات ډېر کم پېښېږي. د ښځو د کور نه د چا سره د تښتېدو واقعات Elopements د نيشت په حساب دي. ځکه چې د ښېرينو نايابو شونډو او ښائسته سترګو د ګټلو په لوبه کښې خطره زياته او قيمت ئې ډېر وچت دے. کهٔ چرې هلک او جينۍ مئين شي او له کوره وتښتي نو کهٔ دوي وادهٔ وکړي خو بيا ورسره لږه نرمي کېږي او هلک تش په دې جرمانه ادا کولو ژوندے پرېښودلے شي چې هغه به د خپل ټبر دوه جينکۍ هغه کور له په سوره کښې ورکوي د کوم کور نه چې هغهٔ يوه جينۍ تښتولې وه. ولې کهٔ چرې هلک دغه جينۍ له دوکه ورکړي او بې نکاح ئې پرېږدي نو بيا د هغهٔ ژوندي پاتې کېدل ګران وي. د جينۍ د خاندان ټول سړي او ځلمي د هغهٔ په ښکار پسې ګرځي او د هغهٔ خپل خاندان او خپل هم د هغهٔ د حفاظت نه لاس واخلي او وې شړي. ځکه چې رواج د رواج ماتونکي د حفاظت او ساتنې اجازت نهٔ ورکوي. هغه اکې يواځې پاتې شي او په هر حال کښې د خپل دغه جرم او بې ننګۍ قيمت د خپل سر او ژوند په صورت کښې ادا کوي. عن تر دې چې دغه هلک په داسې حالت کښې ووژلے شي نو د هغهٔ ملګري او خوارهٔ ياران هم د هغهٔ جنازې له نهٔ راځي. دا ډېره سخته او ظالمانه طريقه ښکاري خو دا کار کوي اخر تاسو شرمخان او زمري په هغه

پته خو نۀ شئ راقابو کولے کنه په کومه چې تاسو سپي ترئ.

یوه خبره بله هم ده پښتانۀ هیڅ هسپتال یا ډاکټر نۀ لري او په هغوي کښې دا مشهوره ده چې خطرناک رنځونه د ښځو نه سړو ته او د سړو نه ښځو ته لګي. لکه د مثال په توګه Syphilis پښتنو ته د دې بیمارۍ هیڅ علاج نۀ ورتلو ځکه هغوي د دې د مخنیوي دپاره تر ټولو فوري او موثر ګام پورته کوي یعني د هغه کس وژل، څوک چې د ټولې ټولنې ژوند او صحت ته د ضرر رسولو سبب جوړېږي. دا د خپل قام او خلقو سره غداري کول دي. یو سبوتاژ کول دي د کوم سزا چې ستاسو په مهذبه قانون کښې هم مرګ دے. مطلب دا چې غوټه په دواړو صورتونو کښې یوه ده خو مزې ئې مختلف دي.

پښتانۀ په زرګوزنو رواجونه لري. د ژوند، مرګ، وادۀ، میني، نفرت، جنګ او قتال او نورو بلا شیانو دپاره قسما قسم رواجونه لري. دلته د هغوي ټولو شمېرل او یا د هغوي د مقاصدو او وظائفو د جاج اخستو کوشش کول ممکن نۀ دي. د پښتون رواجونه نۀ خو بد دي او نۀ ښۀ دي. بلکې په حالاتو، موقعه، ځائے او وخت انحصار لري. البته د پښتون د ټولو رواجونو په حقله دومره وئیلې شو چې دوي د ژوند د هغه طریقې او هغه اقدارو The way of life and Values قائم ساتلو هڅې دي کومې چې دنیا له یو تکړه او زورور جنګیالي خو یو بېکاره فوجي ورکړي دي. د پښتنو اکثر دودونه او رواجونه د هغوي د جنګیالي یوناني پلارانو نیکونو نه هم پخواني او زاړۀ دي. خو پښتانۀ داسې هم ځینې رواجونه لري کوم چې مونږ ته یو عکس وړاندې کوي. د هغه ژوند ژواک او فکر و نظر او اقدارو عکس کوم چې نۀ قابو کېدونکي سکندر او د هغۀ په شا نۀ تلونکو لښکریانو پېدا کړي وو. پښتون چې لا ماشوم وي او ایله خپاړې کوي نو مور ئې ورته وائي ((بزدل او ویرېدونکے سړے کۀ مړ هم شي خو ژړا او چغې سورې ئې د هغۀ نه وروستو هم پاتې وي)) نو داسې پښتون د هلکوالي راهسې نۀ ژړل او نۀ ویرېدل زده کول شروع کړي. هغۀ ته خپلې مېندې، نیاګانې او مشران ګڼ شیان د ژوند نه زیات اهم او خواږۀ ور ورښیي. ځکه پښتون ته خپل سر ورکول یا د بل سر ورکول، وژلے کېدل یا بل وژل څۀ دومره ګران یا ناشنا کار نۀ ښکاري. د هغۀ دپاره نرمې رنګینې جامې اغوستل او خوبولې او دلفرېبه موسیقي اورېدل منع وي ځکه چې دا د سړي مټې نرموي او سترګې پستوي. هغۀ ته له وړوکوالي راهسې دا ښودلے شي چې باز ته وګوره او بلبل مۀ اوره. کله کله خو د هغۀ نه دا غوښتنه هم کېږي چې خپله محبوبه ښځه په خپل لاس ووژني. د هغې بچو د روح د نجات په خاطر. دا د تسلیمېدو یو مسلسل او نۀ ختمېدونکے عمل وي. د انسان او د هغۀ د هوښیارو شوده توبونو په وړاندې تل او مسلسل په شا تلل.

A Perpetual surrender___ an Eternal Giving up of Man to Man and to their wise Follies.

زۀ او تاسو هم هره ورځ دغه کار کوو. د ووټونو او جمهوریت په دې بې خونده دور کښې ډان وانان Don Juans د شمېر په لحاظ ډېر کم شوي دي او د واک اختیار او اثر رسوخ د لحاظه هم ډېر

کمزوري شوي دي. بوډاګان او سپين ږيري معززين او هوښياران دنياداران قانون او رواج جوړوي چې د ژوند ځواني او غورځنګ او باغيتوب په قابو کښې وساتي. يو مصور د ډېرو رنګونو او سپوري او کرښو نه يو تصوير او يو تاثر تخليق کوي. يو موسيقار ګڼ سُرونه راغونډ کړي او يو ساز، يوه نغمه ترې نه سازه کړي. هغه رنګ کوم چې د ټول تصوير د رنګونو سره سمون او ګډون نۀ لري او هغه سُر کوم چې د ټولې نغمې د سُرونو او تال سره سمون او آهنګ نۀ لري له مينځۀ وړلے کيږي. کۀ دا کار هر څومره ګران او تريخ ولې نۀ وي:

An artist mingles many storkes and shades to create an impression, a musician many notes to create a single song. The colour that does not mix, the note that is out of harmony, must go, though the going be hard.

رواج او قانون انسان د هغه شيانو نه لرې ساتي کوم چې د هغۀ دپاره د ضرورت نه ډېر زيات بنۀ او يا ډېر زيات بد وي. رواج او قانون يو معيار جوړوي او کوم خلق چې د دغه عام معيار نه لوئي او يا واړۀ وي هغوي له مينځه لرې کوي. د پښتون ساده باده رواجونه هم هغه هومره بنۀ دي څومره چې ستاسو مهذبه انګريزي قوانين بنۀ دي او هم هغه هومره بد هم دي دواړه باغيان او سرکشان Rebels نۀ برداشت کوي او دواړه د خپلې ودې او پراختيا دپاره د هغه چا محتاجه وي څوک چې د دوي د معيار نه زيات لوئے او وچت وي او دوي ماتوي. څۀ وکړو. ژوند هم دغه شان دے.

دا نظمونه د دي پټانز اووم باب دے. مارچ د غني خان د مړينې مياشت ده. مونږ دا نظمونه د پښتون لوستونکو ته د غني خان د تلين په حواله په خصوصي توګه وړاندې کوو.

## خاموشي

کله چې په خاموشۍ مينه حاوي شي نو نغمه ترې نه جوړه شي
اوکله چې نغمه ضد او سرکشي اختيار کړي نو شور ترې نه جوړ شي
کله چې يو خيال په خپل ځان ايمان پېدا کړي نو لفظ ترې نه جوړ شي
او کله چې لفظ په مستۍ او ګډا شي نو ساز ترې نه جوړ شي
او کله چې ساز په خوبونو کښې ډوب شي نو خاموشي ترې نه جوړه شي
اغاز خاموشي ده، او انجام هم خاموشي

## قسمت

د قسمت مثال لکه د يو ساز د پردو دے
هغوي د تار آهنګ رانيسي او بدلون او تنوع ورله ورکوي
او ژوند او شکل او احساس ورته بخښي.
د هغه منشور په شان کوم چې د نمر سپينه رڼا نيسي
او په بلا رنګونو او سپورو کښې ئې بدلوي
د قسمت نه بغير ژوند د هغه ساز په مثال دے
چې سرونه نۀ لري.

یکسانیت ابدیت دے

## عقل او عشق

عقل صرف دوه درې ګامه تلې شي
اخوا بیا د حېرت په بیابان کښې ورک شي
په حسن کښې ستا د ذات او وجود هغه اثبات دے
کوم چې د زړۀ سترګو له نور ورکوي
تۀ کوم ځائے ئې؟ څنګه ئې؟ ستا کور چرته دے؟
دلته ستا داستان پیچېده شي
کنه کۀ هر څومره ګرانه مسئله وي
په خاموش او مسلسل فکر حل کېدے شي
عقل او منطق او فکر او تخیل
د یقین او ایمان مضبوطه قلا جوړوي
د امېد د چینې پاکې او خوږې اوبۀ
د ژوند لارې د ګلونو او شینکي په سېوري
سېوري بیائي
د کائنات په هر څیز کښې ډیزائن او توازن او
تناسب دے
او شکل او صورت او رنګ او طاقت او وظیفه ده
پکښې
د ستر خالق لاس په هر څۀ کښې څرګند ښکاري
د کائنات په همه مخلوقاتو او په هره ذره کښې
هر څۀ په توازن کښې ساتلے شي
او په فکر او خیال ډیزائن شوي او تخلیق شوي
دي
ستوري او نمر او هوا او رڼا
هر څۀ او هر څوک د هغه ستر خالق په ګوتو کښې
بندیوان دي
عقل هم دغه هومره مزل کولے شي
د هغۀ ټول ګمانونه او منطق او چلونه او دانائي
دغه هومره ده
خو کۀ تۀ غواړې چې یو بت، یو صنم ستا زړۀ
وغولوي او خوشحاله کړي
نو هغه ګنبد او مینار دې او دا منبر او محراب
فکر او تخیل حسن او جانان او خمار
یوه برباده شوې او فنا شوې دنیا بیا راژوندۍ
کولے شي
ولې عقل.. د حد او توازن او تناسب بندیوان وي
د دغې اخوا بیا دې د حېرت په بیابان کښې
ورکېږي

## ساقي

د ساقي لاس کښې شراب دي
د خندا او د ژړا
ما پیاله تشه نیولې
اې ساقي چې کوم دې خوښ وي
په خندا خندا ئې را
لېونے یم کار مې نشته
په خندا او په ژړا

♣♣♣